۶۰

# ملي هيلي
اونيزه
هفته نامه

د ولس ريښتيني هيلې

شپږم کال | د ۱۳۹٦ لمريز کال د مرغومی (جدی) د میاشتي لومړۍ نېټه

درنو ځوانانو!

پوهه او زده کړې خلاصون نه لري، کله چې یو ځوان ښوونځي ته ځي او یا پوهنتون ته ځي دا په دې مانا دی چې زمونږ په ټولنه کې اوس هم ډېر ځوانان شته چې له پوهې سره مینه لري کله چې تاسو ښوونځی او پوهنتون خلاص کړ نو ستاسې زده کړې پای ته نه دي رسېدلي او باید دوام ورکړئ ځکه علم یو داسې سمندر دی چې پای نه لري نو پیاوړی ځوان هغه څوک دی چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او خپلې ټولنې ته د پوهې له اړخه ګټه ورسوي.

په درنښت

الحاج محمداکبر ستانکزی

په ولسي جرګه کې د لوګر ولایت استازی





## اخلاصیار: په لوګر کې د ۷ میلیونه ډالرو په لګښت د ۴۰۰ کیلو متره کانالونو د جوړولو چارې روانې دي

د لوګر د کلیو پراختیا او بیا رغونې چارو رئیس عاشق الله اخلاصیار له ملي هیلي سره مرکه کې وویل چې په لوګر کې تر ۲۰۱۶ کال پورې د ملي پیوستون پروګرام کار کولو چې د دغه ولایت خلکو ته یې په بېلا بېلو برخو کې ډېر اغېزمنې پروژې پلې کړي دي. نوموړی وایي، اوس د ملي پیوستون په ځای د ولسي تړون پروګرام پیل شوی چې دا هم د کرنې، روغتیا، پوهنې او ټولنیزو برخو کې کار کوي، چې لګښتونه یې نړیوال بانک ورکوي او تر اوسه یې د لوګر د مرکز په ګډون په دریو ولسوالیو کې برکي برک او محمد آغې او خوښۍ کې یې یو شمېر پروژې پیل کړي دي. اخلاصیار زیاتوي، لکه څنګه چې پخوا دا پروګرام اغېزمن وو اوس به د ولسي تړون پروګرام په بېلا بېل برخو کې ډېرې مهمې پروژې ترسره کړي، ولسي تړون غواړي، د دغه کال تر پایه به ۳۰۷ شورا ګانې جوړې کړي چې د پخوانیو هغو ځای ونیسي او تر اوسه ۸۰ شورا ګانې جوړې شوي او په نورو هم کار روان دی. د کلیو پراختیا رئیس عاشق الله اخلاصیار وړاندې وایي، ولسي تړون پر معارف، روغتیا، او کرنې سربېره په نورو برخو کې هم کار کوي، ښوونځي جوړوي، کلیوالي لارې جوړوي، کوچنۍ لارې له لویو لارو سره نښلوي... پاتې ۲ مخ



## جمهور رئیس غني: قدس زموږ د لومړنۍ قبلې او د حرم شریف په توګه د مسلمانانو د هویت مرکزي هسته تشکیل کړي

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس محمداشرف غني د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان فوق العاده ناسته کې چې د لیندۍ په ۲۲ له غرمې وروسته د ترکیې په استانبول ښار کې جوړه شوې وه، ګډون او وینا وکړه. په دې ناسته کې چې د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان غړو هېوادونو مشرانو ګډون کړی وو، په پیل کې د ترکیې جمهوررئیس رجب طیب اردوغان، د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان د فوق العاده ناستې د جوړولو په اړه خبرې وکړې... پاتې ۲ مخ

## لوگر تا بهار آینده چراغان میشود



الحاج محمد اکبر "ستانکزی نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی میگوید مشکل اساسی در انتقال برق ، نصب پایه های متوسط بوده است که باید در آغاز به آن توجه میشد و مردمان که خانه هایشان زیر چتر لین و پایه ها قرار می گیرند در آینده به مشکل جدی مواجه خواهند گردید. ستانکزی که با هفته نامه ملی هیلی مصاحبه می نمود در جواب سوال که گویا برق از لوگر به پکتیا انتقال میگردد و لوگر در تاریکی بسر خواهد برد و ریس جمهور چهل روز مهلت داده است تا لویه پکتیا از برق مستفید گردد گفت :" **ریس جمهور حالا هم مانند دوره انتخابات شعار میدهد و از مهلت آن حالا چهل و پنج روز گذشت و فقط بازار را گرم می سازد و برق درک ندارد و زحمات را ما متقبل شده ایم و هیچگاه اجازه نخواهیم داد که پکتیا از برق مستفید شود و مردمان لوگر ما در تاریکی به سر ببرند شبکه برق رسانی لوگر آماده است و اگر چنین کاری شود حکومت وحدت ملی است به هیچ چیز آن باور نیست باز به نمایندگی مردم لوگر لین برق آنرا قطع خواهیم نمود**". آقای ستانکزی گفت خانه های کسانیکه زیر پایه ها و لین های برق قرار می گیرد باید اجازه کار را به شرکت بدهند و از پروسه برق رسانی به ولایات جنوب حمایت نمایند و پول استملاک جاهای خود را باید دریافت نمایند و قناعت کنند. الحاج محمد اکبر ستانکزی گفت که تا بهار آینده لوگر از نور برق مستفید خواهد گردید و با آمدن زمستان کارها به چالش مواجه گردید که آنان کوشش دارند تا در همه موارد چالش های موجود را حل بسازند.

مطیع الله "سرور"

## ستانکزی : در شرایط کنونی بودجه ملی سال مالی ۱۳۹۷ نگران کننده بود و به همین دلیل رد شد



الحاج محمد اکبر "ستانکزی" نماینده منتخب مردم لوگر در ولسی جرگه و عضو کمیسیون مالی ، بودجه محاسبات عمومی و امور بانکها در مصاحبه اختصاصی به هفته نامه ملی هیلی گفت که افزایش تشکیل ۲۲۰۲۶ تن بدون دلایل موجه نگران کننده بود و فشار مالی بیشتری را بالای بودجه میگذاشت و به همین ترتیب حذف پروژه های مهم در بودجه پیشنهادی جوابگوی نیازمندی های مردم پنداشته نمی شد. او گفت که در مجموع مصارف حکومت برای سال ۱۳۹۷ مبلغ ۷.۹ میلیارد افغانی بالاتر از سقف بودجه نشان داده شده بود و در ضمن تصویر عواید پلان شده برای سال مالی ۱۳۹۷ روشن نبود و بودجه اوپراتیفی درین سال به ۱۰ اداره در نظر گرفته شده بود که مایه نگرانی برای همه وکلای ولسی جرگه بود... ادامه صفحه ۲

## د لوګر د ولایتي شورا نوی اداري هیئت وایي، د دغه شورا د چارو د ښه والي لپاره یې نوې او ګټوره تګلاره جوړه کړې



د لوګر ولایتي شورا چې تېره میاشت یې د اداري پلاوي د ټاکلو لپاره ټاکنې ترسره کړې ، نوی ټاکل شوی اداري پلاوی وایي ، د ولایتي شورا د چارو د لا سمون او لا ښه والي لپاره یې نوې تګلاره جوړه کړې چې له مخې به یې د یادې شورا چارې د لوګر د خلکو لپاره ډېرې ګټورې ثابتې شي او هم له محلي ادارې سره همغږې زیاته شي. د لوګر د ولایتي شورا مشر حسیب الله ستانکزی وایي ، د ولایتي شورا اصلي دنده دا ده چې محلي ادارو ته لازمې مشورې ورکړي ، په ولایت کې له روانو پروژو څخه څارنه وکړي او د امنیتي او پرمختیایي سکتور د چارو د اغېزمنتوب لپاره کار وکړي. ستانکزی وایي ، په ولایتي شورا کې ۹ کمېټې او ۷ سکتوره لري چې د هرې کمېټې په سر کې یو کس مسؤل دی او هر ورځ خپلې چارې سمبالوي خو ډېره مهمه برخه زموږ د نظارت او څارنې ده چې د انکشافي پروژو نه څارنه کوي او موږ یو د زېربنا یوه کېټه لرو او یو وکیل یې مشري کوي او د دې کمېټې مسؤلیت ډېر مهم دی. حسیب ستانکزی زیاتوي ، یوه میاشت کېږي چې موږ کار پیل کړی ، موږ غواړو د نظارت برخه کې خپل فعالیتونه لا ډېر کړو ، د قانون سره سم د لوګر په مهمو مسایلو کې محلي ادارې سره به کار کوو او هغه پروژې چې تر اوسه نا تکمیله پاتې دي د تکملېدو لپاره به یې ګړندۍ هڅې کوو. د لوګر د ولایتي شورا منشي عدالت عبدالرحیمزی په لوګر کې د پروژو پر نظارت ټینګار کوي او وایي چې د ولسي تړون پروژې د لوګر د خلکو لپاره ډېرې ګټورې دي ځکه یادې پروژې د لوګر هغه سیمو ته ځي او پلي کېږي چې هلته په تېرو کلونو کې ډېر لږ کار شوی او یا ښځي ندی شوی او بل ښه والی یې دا دی چې خپله د خلکو لخوا پلي کېږي... پاتې ۲ مخ

شرکت انجینری کوثر
KAWSAR ENGINEERRING PVT LTD
کوثر
KAWSAR
KENGINEERING
MOODY
ACS REGISTRARS
SGS
تولید کننده پایپ های پی وی سی، پی وی سی فتنگ، پی پی آر سی پایپ
پی پی آر سی فتنگ، اچ دی ای پی پایپ و پمپ های دستی با استندرد بین المللی
آدرس فابریکه: بگرامی، متصل تانگ تیل یوسفزی، کابل
شماره تماس: 0777-323424 - 0799-855512 - 0777-479999

## جمهور رئیس غني: قدس زموږ د لومړنی قبلې ...

دغه راز د فلسطین خپلواکې اداري رئیس محمودعباس د قدس د موضوع په اړه د اسلامي هېوادونو یووالی د قدر وړ وباله او هیله یې څرګنده کړه چې د اسلامي هېوادونو واحد دریځ به د ستونزې په حل کې مرسته وکړي. جمهوررئیس غني د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان د فوق العاده ناستې ګډونوالو ته په خپله وینا کې وویل: مونږ په ځانګړې تاریخي شیبه کې سره راټول شوي یوو چې د اسلامي امت او نړۍ ګډ پام پر قدس ، حرم شریف او د فلسطین د خلکو پر حقونو متمرکز دی. هغه زیاته کړه ، قدس زموږ لومړنۍ قبله او د حرم شریف او د (مسلمانانو) د دریم سپېڅلي جومات په توګه د مسلمانانو په توګه زموږ د هویت مرکزي هسته تشکیل کړې او زموږ د اسلامي تمدن کلیدي سمبولونه دي. هغه زیاته کړه: له پیوستون څخه په استفادې کولای شو د فلسطین خلکو او حکومت سره د مرستې لپاره جامع پلان ترتیب کړو ، ځکه واړه اقدامات او خورې ورې پروژې کافي نه دي. جمهوررئیس غني په فلسطین او سیمه کې د عادلانه او پایداره سولې د تامین په خاطر د عرب نوښت جامع طرحې د ترتیب لپاره له بین المللي قوانینو څخه استفاده مهمه وبلله او ټینګار یې وکړ چې د مسلمانانو او عیسویانو ، د خلکو او د امریکا په ګډون د امنیت شورا کلیدي غړو ترمنځ ، تلپاتې سولې ته د رسېدو په خاطر سم درک ته اړتیا ده. د هېواد جمهوررئیس په ټینګار سره وویل ، د اسلامي نړۍ د هېوادونو تر منځ د شخړو او مناقشو ختمولو ته جدي اړتیا ده چې له دې سره خپله واقعي رهبري ثابتولی او د همدغې پیاوړې اجماع له لارې خپله توانایي نندارې ته وړاندې کولی شو. جمهور رئیس محمد اشرف غني څرګنده کړه ، زموږ اسلامي تاریخ باید د زغم د تمدن په توګه احیا شي او همدارنګه تروریستي او له تاوتریخوالي ډک اعمال چې اصلي قربانیان یې مسلمانان او په ځانګړې ډول د افغانستان خلک دي ، مردود او وغندل شي. جمهوررئیس غني د عادلانه او پایداره حل لارې د پیداکولو په اړه د ملګرو ملتونو پرېکړه لیکونه چې د یو خپلواک دولت لرلو لپاره د فلسطین د خلکو د حقونو د تامین او د القدس او حرم شریف د موقعیت د تثبیت لامل کېږي ، مهم وبلل اود هغو هرکلی یې وکړ. د هېواد جمهوررئیس وویل ، د اسلامي نړۍ او په عمومي توګه د ټولې نړۍ ترمنځ همپالنه او معاهدې او د بیت المقدس ځانګړې ځای ته درناوی د ټولو الهي ادیانو په تاریخ کې هیڅ وخت هم دومره پراخه نه وو. جمهوررئیس محمداشرف غني څرګنده کړه ، زموږ پخوانیو مشرانو چې کوم زغم او درناوی ښودلی ، له حضرت عمر فاروق څخه نیولې تر خلیفه عبدالملک چې اقصی جومات یې جوړ کړ ، تر صلاح الدین ایوبي پورې د یو تمدن او فرهنګ په توګه د اسلام د عمق او وسعت ښودونکي دي. جمهوررئیس محمداشرف غني څرګنده کړه ، د اسلام روښانه ماضي ، مونږ ته دا لارښوونه کوي چې خپل راتلونکی د تمدنونو ، فرهنګونو ، ادیانو او خلکو ترمنځ د رغنده مذاکراتو په پیلولو سره مجسم کړو. د هېواد جمهوررئیس ، د اسلامي امت ترمنځ اجماع خوشالونکې وبلله او زیاته یې کړه د نړۍ مسلمانان لکه رهبران ، دولتونه ، جوماتونه ، رسنۍ ، ښځې او نارینه ، ځوانان او زاړه داسې منسجم او متحد شوي چې د حق په اړه خپل ګډ غږ پورته کوي. د اسلامي هېوادونو همکارۍ سازمان د مشرانو فوق العاده ناستې په پای کې ګډون کوونکو مشرانود اسرائیلو د پلازمېنې په توګه د قدس شریف د رسمیت پېژندنې موضوع د ارزونې په اړه ګډ پرېکړه لیک صادر کړ. په دغه پرېکړه لیک کې د اسرائیلو د پایتخت په توګه د قدس د په رسمیت پېژندنې په اړه د امریکا متحدو ایالتونو د جمهوررئیس تصمیم غندل شوی او د هغه اعلان یې د بین المللي سولې او امنیت لپاره تهدید وباله. دغه راز په یاد پرېکړه لیک کې څرګنده شوې چې د امریکا له لوري یاد ګام ، د بین المللي قوانینو په ځانګړې ډول د جینیوا دځلورم منشور او د ټولو مشروع بین المللي پرېکړه لیکونو په ځانګړې ډول په دې اړه د ملګرو ملتونو امنیت شورا پرېکړه لیک ، جدي نقض دی.

ارګ

## ستانکزی : در شرایط کنونی بودجه ...

آقای ستانکزی درین مصاحبه از مردم لوگر خواست تا در کار های بازسازی که قرارداد آن امضا گردیده است همکاری نمایند و نگذارند که بودجه آن به دیگر جاها به مصرف برسد. وی افزود که آنان کوشش می نمایند تا در بودجه سال مالی ۱۳۹۷ پروژه های مهم و ارزنده ی را شامل بسازند. قابل ذکر است که مسوده بودجه ملی سال مالی ۱۳۹۷ به تاریخ اول قوس سال ۱۳۹٦ از جانب وزیر مالیه کشور به مجلس عمومی ولسی جرگه غرض بررسی و تصویب معرفی گردید که در جریان همان ماه با اکثریت آراء از سوی اعضای ولسی جرگه رد گردید.

مطیع الله "سرور"

## اخلاصیار: په لوګر کې د ۷ مېلیونه ډالرو ...

اخلاصیار وایي ، د ولسي تړون د کارونو څخه ولس او خلک ډېر خوښ دي ، پدې پروګرام کې ډېر خلک په کار بوخت شوي ، دلته ډېر خلک چې ډېری یې بې تعلیمه دي نو ډېر شمېر یې د ولسي تړون د پروژو له لارې کاري فرصتونه پیدا کوي ، همدارنګه موږ د کرنې په برخه کې خلکو ته کار کړی او کوو یې چې خلکو د کرنیزو حاصلاتو په برخه کې مهم بدلونونه راغلي دي. د اخلاصیار په خبره ولسي تړون اوس مهال د لوګر په خوښۍ ، محمد آغه ، برکي برک او مرکز پل علم کې د ۷۰ لکو امریکایي ډالرو په لګښت د ۴۰۰ کلیو متره کانالونو د جوړولو چارې رواني دي چې د ۳ میاشتو په لړ کې به یې کار بشپړ شي.

حکمت الله "واقد"

## د لوګر د ولایتي شورا نوی اداري هیئت وایي...

عبدالرحیمزی زیاتوي ، د ولسي تړون پروژې د لوګر خرخ ولسوالۍ ته هم رسېدلي ، چې په تېرو کلونو کې هېڅ پروژې هلته په بریالیتوب نه وې پلي شوې ، نوموړی له خلکو او د ولسي تړون له مسؤلینو غوښتنه کوي چې د یادو پروژو د ترسره کېدو په وخت کې له پوره شفافیت نه کار واخلي تر څو پروژې لا ګټورې او لا د خلکو ستونزې ورسره کمې شي. د لوګر د برکي برک ولسوالۍ یو اوسېدونکی سراج مومند د ولایت په کچه د ټولو چارو په ښه والي او اغېزمنتوب کې د ولایتي شورا رول مهم بولي او وایي که ولایتي شورا خپل مسؤلیت په سم ډول ترسره کړي ، له ویوې خوا به د فساد مخه نیول شوي وي او له بلې خوا به په ولایت کې ترسره کېدونکي چارې او خدمتونه د خلکو لپاره ګټور پرېوځي. دا په داسې حال کې ده چې لوګر کې هم د نورو ولایتونو په څېر لېرې پرتو سیمو او کلیو ته د ولایتي شورا وکیلان او نور څارونکي د ناسم امنیت له امله تګ راتګ نشي کولی چې ډېر کله پروژې له نظارت او څارنې پرته پلي کېږي او دا چاره د دې لامل کېږي چې د پروژو کیفیت خراب او د خلکو د ناخوښۍ لامل وګرځي.

حکمت الله "واقد"

## انجمن جوانان...

در اخیر الحاج محمد اکبر"ستانکزی" بعد از استماع مشکلات وپلان کاری کمیته وعده همکاری نموده و وهدایت سپرد که در جلسه آینده هرکمیته با اعضای آن حضور یابند تا روی پلان های آینده بحث وگفتگو صورت گیرند . آقای "ستانکزی" از خدمات "عزیزیار" در برابر محصلین لوگر در پوهنتون پکتیا تقدیر نموده و وعده همکاری از تجلیل فراغت ایشان در ولایت لوگر نمود. جلسه عمومی انجمن جوانان فعال روز پنجشنبه مورخ ۱٦ قوس سال ۱۳۹٦ هجری شمسی تحت ریاست محترم الحاج محمداکبر "ستانکزی" رئیس انجمن و وکیل منتخب مردم لوگردرولسی جرگه پیرامون انتخاب رؤسای کمیته های انجمن دایر گردید جلسه با آیات جندی ازکلام الله مجید توسط محترم میرویس "شهاب" آغاز گردید سپس نیک مل "امیری" منشی انجمن ضمن خوش آمدید به حاضرین مجلس اجندای جلسه را به خوانش گرفت.که درنتیجه محترم حمد الله "احمدزی" رئیس کمیته مالی ، محترم میریس"شهاب" رئیس کمیته دعوت وارتباطات ،محترم احسان الله "احساس" رئیس کمیته علمی وارتقای ظرفیت ومحترم خواجه محمد ناصر" مقصودی" رئیس کمیته امنیتی امور دفاعی به اکثریت آرا انتخاب گردید. به تعقیب محترم احسان الله "احساس" گزارش کاری خویش را راجع به بهترین های کانکور سال ۱۳۹٦ درولایت لوگر به جلسه ارائیه نمود . دراخیر الحاج محمد اکبر "ستانکزی" پس از استماع گزارش ذکر شده فعالیت های آقای "احساس" را تقدیرووعده همکاری نمود مجلس به خوانش دعائیه خاتمه یافت. جلسه اختصاصی کمیته پلان وپالیسی انجمن جوانان فعال روز دوشنبه مورخ ۲۰ قوس سال ۱۳۹٦ هجری شمسی تحت ریاست الحاج محمد اکبر"ستانکزی"رئیس انجمن جوانان فعال و وکیل منتخب مردم لوگردرولسی جرگه دایر گردید . درنخست اعضای کمیته پلان وپالیسی پلان وطرح کاری خویش را راجع به بهبود ورشد فعالیت های انجمن ازلحاظ اینکه انجمن از وضعیت مصرفی به یک حالت تولیدی مبدل گردد ارائیه نمودند. دراخیر الحاج محمد اکبر "ستانکزی" ضمن استماع نظریات وطرح ارائیه شده راجع به بهبود وضعیت انجمن به اعضای کمیته وظیفه سپرد که طرح یاد شده رامورد غور وبررسی قرار داده گزارشات آنرا به جلسه بعدی ارائیه دارد .

عبدالرحیم "واحدی"

## کارمندان شرکت برشنا میترها را بر اساس حدس و گمان محاسبه می کنند

برښنا
د افغانستان برښنا شرکت

کمیته ی نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری در گزارشی گفته است که هر میترخوان شرکت برشنا ناگزیر است که در یک روز ۴۰۰ میتر برق را بخواند، اما این افراد شماری کمی میترها را خوانده متباقی را بر اساس حدس و گمان محاسبه می‌کنند. بر بنیاد گزارش تازه کمیته نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری یا میک, به بیش از هفتاد مورد فساد در هفت ولایت کشور دست یافته اند که نشان می‌دهد فساد گسترده در شرکت برشنا وجود دارد. در این گزارش که یکی از منابع آن اداره بازرس ویژه آمریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار است, آمده که بیشتر از ۴۰ درصد هزینه‌های برق، از محل های رهایشی ، ۲۹ درصد از نهادهای دولتی، ۲٦ درصد از شرکت های تجارتی ونزدیک به ۴ درصد از مکان‌های مذهبی پرداخته نمی‌شوند. یافته های این نهاد همچنان فساد را دلیل عمده ی پرچوی های برق شهرهای کشور دانسته اند. مسوولان کمیته نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد در نشست خبری افزودند که رشوه ستانی از سوی کارمندان شرکت برشنا، میترهای بی کیفیت، مجهز نبودن لابراتوارها، ۳۸ درصد ضایعه های برق، کمبود کارمندان میتر خوان، مداخله ی حکومت و سهمداران شرکت برشنا، از موارد بارز یافته‌های این کمیته است. این در حالیست که شرکت برشنا وجود فساد به این حد را در این اداره نمی پذیرد و تاکید دارد که این کمیته به گونه ی یک جانبه در مورد این شرکت قضاوت کرده است. شرکت برشنا، مسوولیت برق رسانی به تمام ولایت‌های کشور را دارد، اما تاکنون نتوانسته دست کم مشکل برق پایتخت را حل کند. کابل همه ساله با آمدن زمستان به تاریکی فرو میرود ، ظاهرن نه حکومت و نه شرکت برشنا تاکنون توانسته اند راهکاری را برای حل مشکل پایتخت عملی کنند.

## دنشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ریاست لپاره نوې اداري ودانۍ د یوولس اعشاریه،اوه میلیونه افغانیو ( ۱۱۷۰۰۰۰۰ ) په لګښت جوړیږي



د یادې ودانۍ دبنسټ دېرې ایښودو په مراسمو کې د لیندۍ په پنځلسمه د لوګر والي محمد حلیم فدایي، استناف محکمې رئیس حقیق الرحمن حقمل،د ولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي، د شورا مرستیال ډاکټر عبدالولي وکیل،د یادې شورا منشي عدالت عبدالرحیمزي،د یو شمېر ادارو رئیسانو او د رسنیو استازو ګډون کړی وو. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د رئیس په خبره ددغې ودانۍ اوږدوالی ۳۳پر۱۲ کې دی،یاده ودانۍ دوه پوړه لري چې پکې د ۱۰ اداري خونو برسېره،یو باب لوی هال،کمپیوټر خونه، کتابتون،تحویلخانه، خوړنځی، پخلنځی، یو ګدام او همدارنګه د ودانۍ احاطوي دیوال ،یوه ساتنخونه، یوه د څښلو اوبو څاه ، ۲۰ کیلو ولټه جنراتور او سپتیک څاه لري چې ټول لګښت یې (۱۱۷۰۰۰۰۰) افغانۍ ټاکل شوی ده او د یو کال په موده کې به یې کاري چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي،د یادونې وړ ده چې ددغې ودانۍ چارې د عمران ودان ساختماني شرکت لخوا پر مخ وړل کیږي.

LMC

## ضیایی: شورای ولایتی پُل میان دولت و ملت است







احمدفردین ضیایی بنیانگذار و رئیس فدراسیون ملی کبدی افغانستان ، مسؤلین و تعداد از ورزشکاران این فدراسیون به تاریخ هجدهم ماه قوس سال جاری جهت تبریکی و دیدار با رئیس شورای ولایتی لوگر عازم لوگر شدند. درین دیدار برعلاوهء حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی لوگر ، حاجی عبدالولی وکیل معاون شورای ولایتی لوگر نیز حضور داشت که با اِهدای تقدیرنامه از سوی فدراسیون ملی کبدی برای هیئت اداری جدید شورای ولایتی خواهان توفیقات بیشتر برای آنان گردیدند. احمد فردین ضیایی در سخنان خود گفت که شورای ولایتی یک آدرس خوب برای حل مشکلات مردم پنداشته میشود که شورای ولایتی لوگر باید همواره در خدمت مردم خود باشند. ضیایی افزود که وکلای شورای ولایتی کوشش نمایند تا فاصله بین دولت و ملت را کاهش دهند و ازین بابت مصدر خدمتگذاری بیشتر به ملت گردند. حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی لوگر از آقای ضیایی و تیم همراهش سپاسگذاری نموده و افزود که آنان شب و روز در خدمت مردم خود قرار خواهند داشت. طبق یک خبر دیگر در این أواخر مشکلات که میان بزرگان مردم دشت باري ومردم کلنگار ولایت لوگر به میان أمده بود بخاطر حل این معضله حسیب الله ستانکزي رئیس شوراي ولایتي لوگر ، عبدالولي وکیل معاون شورا ، سید فرهاد اکبري بزرگ قومي توانستند میان این دو قوم مشکلات که به میان امده بود مرفوع نمایند و به تاریخ ۲۶ ماه قوس در منزل قوමندان هاشم بِه اشتراك بزرگان دشت باري ، شوراى منطقوى قومى واعضاى شوراى مردم کلنگار این مشکلات به میان امده مرفوع ساخته شدې. حسیب الله ستانکزي در سخنان خود گفت باید یاد اور شوم به کساني که تعصبات قومي را دامن میزند هر کسي که در لوگر میان اقوام بي اتفاقي و تعصبات قومي به وجود میاورد هیچ وقت به اهداف شوم شان نخواهد رسید. باید دست به دست هم داده و براي اتفاق و اتحاد مردم خود کار نمایم و کشور خود را آباد بسازیم. مانند سایر کشور هاي دنیا پیشرفت و ترقي نصیب مان گردد.

محمدحفیظ "ستانکزی"

## آغـــاز توزیع مـــواد غذایـــی از طریق ریاســـت احیـــاء و انکشـــاف دهات در مرکز ولایـــت لوگر



بمقدار ۱۲۰ میتریک تن مواد غذایی از کمک های سازمان غذایی جهان (WFP) که شامل ۱۰۰ میتریک تن آرد گندم ، ۹ میتریک تن روغن ، ۵میتریک تن دالنخود و ۰,۵ میتریک تن نمک میباشد پروسه توزیع آن توسط قمرالدین (شکیب) معاون ولایت لوگر و عاشق الله (اخلاص یار) رئیس احیأ وانکشاف دهات برای فامیل های بی بضاعت و بیجا شده گان در مربوطات مرکز ولایت لوگر آغاز گردید .

عاشق الله (اخلاص یار) رئیس احیأوانکشاف دهات گفت این مواد بطور رایگان برای ۱۰۰۰ فامیل مستحق و بی بضاعت توزیع میگردد.

اخلاص یار افزود برای هر فامیل بمقدار ۲ بوری آرد گندم ۵۰ کیلویی ، دو بوشکه روغن ۵ لیتره ، ۱۰ کیلو دالنخود و یک کیلونمک توزیغ میشود.

همچنان وی افزود که در نظر است در آینده نزدیک ۶۰ میتریک تن مواد غذایی دیگر نیز به اشخاص و فامیل های بی بضاعت و مستحق از طریق ریاست احیأ و انکشاف دهات توزیع گردد.

صبغت الله (نائب خیل)

## لوګـر ولایـت کـې څـه کـم شـپږ ټـنـه نشـه یـې توکـي چـې پکـې هیروین، مورفین، تریـاک، چـرس او بنګدانـه شـامل و، وسـوځول شـو



د لیندۍ په ۱۹ نیټه د لوګر ولایت د امنیتي او کشفي ارګانونو لخوا چې په تیرو څه کم دوه کالونو کې ۵۸۲۷ کیلو ګرامه نشه یې توکي چې پکې هیروین، مورفین، تریاک، چرس او بنګدانه شامل و، وسوځول شو. د نشه یي توکو د سوزیدو په مراسمو کې د لوګر والي محمد حلیم فدایي، امنیه قومندان لوی پاسوال عصمت الله علیزي، ولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزی، ملي امنیت رئیس غلام رباني، ملي اردو د خلورمې پلې لوا قومندان برید جنرال عبدالرازق ساپي، نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې رئیس او مطبوعاتو ګډون کړی و. د لوګر ولایت د امنیه قومندان په وینا یاد نشه یې توکې ټول ۵۸۲۷ کیلو ګرامه وه چې ۹۵ کیلو ګرامه هیروین، ۱۰۸ کیلوګرامه مورفین، ۳۳۱۴ کیلو ګرامه تریاک، ۲۲۴۹ کیلو ګرامه چرس او ۱۵۵ کیلو ګرامه بنګدانه شامل دي چې ددې سره ۱۳ قاچاق کوونکي، ۱۵۰۰۰۰ یوسل پنځوس سوه زره افغانۍ، ۳ وسایط او ۱۴ مبایلونه هم نیول شویدي. لوګر والي لومړی د ټولو امنیتي او کشفي مسولینو مننه وکړه چې هم د مخدره توکو د کر کیلي په مخنیوي او هم په ترافیکو کې هلې ځلې کوي، والي وړاندې وویل نشه یي توکو بوټی زمونږ د ټولنې بوټی او بنیاد وباسي او د تروړستانو تقویه لاره همدا نشه یې توکي دي او ددې ترخنګ هغه خبیثه کړۍ چې عبارت د طالب، فاسد او غاصب دی سره ترې چې مخنیوی یې ډیره ضرور دی. لوګر والي وویل دنشه یې توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د معلوماتو په اساس په لوګر ولایت کې د نشه یې توکو کښت صفر دی چې پدې برخه کې زمونږ د امنیتي ځواکونو ترخنګ زمونږ د محلي خلکو لاس او همکاري ده، چې ترینه یې مننه وکړه. د لوګر والي په وینا په ازرې ولسوالۍ کې دا ۱۵ کاله چرس کرل کیدل او ځنګلونه وهل کیدل چې زمونږ په هلو ځلو سره میاشت وړاندې د ازرې ولسونو تړون وکړ چې له دې وروسته به په خپلو ځمکوکې چرس نه کري او نه به ځنګلونه وهي او د کرلو او وهلو په صورت کې به ټاکل شوې جریمه ورکوي. والي امنیتي وضعیت ته په اشارې وویل په لوګر ولایت کې امنیتي وضعیت د پخوا په نسبت ښه دی چې دا د امنیتي ځواکونو ښې همغږۍ په مانا دی، که څه هم وسله والو مخالفینو زیات کوشش وکړ چې لوګر ولایت د کندز غونډې سکوت کړي خو دا ارمان یې له ځانه سره یوړه او خپله دوی ماتې وخوړه. لوګر والي نظام یو چتر یاد کړ او امنیتي ځواکونو یې ددې چتر ستنې یادې کړې چې پدې کې باید ټول همکاري وکړي او که چیرته دا چتر ونړیده ټول زیانمن کیږي او ټولو ته ضرر رسیږي. په پای کې والي وویل چې په لوګر ولایت کې ټول امنیتي مسؤلینو، محلي ادارې، قضایي ادارې او ولایتي شورا د لوګر ولایت لپاره د محسوسو اوملموسو خدماتو لپاره یو لید لري. د ولایتي شورا رئیس هم د امنیتي ځواکونو مننه وکړه چې دومره ستره لاسته راوړنه لري او ددوی د میړانې او ښې همغږۍ په نتیجه کې لوګر ولایت په یوه سیمه کې هم پوستې سکوت ندی کړی، د نشه یی توکو سره د مبارزې ریس هم وروستۍ سروېې ته اشاره وکړه چې ددې وزارت لخوا شویده او پکې ویل شویدي چې په لوګر ولایت کې د نشه یي توکو د کر کیلي څخه یو پاک ولایت دی.

LMC

## د افغاني سرې میاشتې ټولنې خبرتیا!
## په جرمني کې وړیا درملنه!

د افغاني سرې میاشتې ټولنه یو ځل بیا ستاسو ناروغ ماشومان جرمني ته د درملنې په موخه استوي.

ټاکل شوې د روان کال د مرغومې "جدې" د میاشتې په شپږویشتمه نېټه د جرمني د سولې کلي ډاکټران د سخت سوي او هډوکي د ماتوالي په ناروغۍ د اخته ماشومانو د تشخیص او معاینې په موخه کابل ته تشریف راوړي او ناروغ ماشومان له معاینې وروسته په وړیا ډول د درملنې په موخه جرمني هېواد ته له ځان سره بوزي.

له هغو هېوادوالو څخه چې ماشومان یې په یاده ناروغۍ اخته وي هیله کېږي ترڅو په یاده نېټه د کابل په پل آرتل سیمه کې د سرې میاشتې دفتر ته د ناروغو ماشومانو د معاینې په موخه تشریف راوړي.

شرطونه:

د ماشوم عمر له ۱۱ کلونو لوړ نه وي

لس قطعي عکسونه

اصلي تذکره

د مور او پلار حضور ضرور دی

د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۹۰۰۰۱۸

په درنښت

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ویاند دفتر

60

Weekly
MELLI HELLI

6th year | 22 December 2017

به جز از سرمقاله مسولیت دیگر نوشته ها به نویسندگان آن بر میگردد.
ملي هيلې در ویرایش مطالب دست باز دارد.
ملي هيلې در بازتاب انتقادات ، پیشنهادات ، نظریات و طرح های سازنده و ملی ارج قایل است
آدرس در کابل: دارالامان روبروی شفاخانه کیور
آدرس در لوگر: جوار کمیسیون انتخابات رادیو پیوند ملی

د امتیاز څښتن: باران میډیا ګروپ
مسوول مدیر: مطیع الله سرور
کتنپلاوي: سیداجان احمدزی او جاویدصدیقی
خبریالان: مصطفی خیراندیش ، محمد عارف ویسا ، نور محمدعابد عبد الله عرب ، شمس الحق زهیر او رامین عباسی
چاپځای: سعادت مطبعه ، کابل

۰۷۹۶۰۵۹۰۰۹ - ۰۷۴۴۰۱۰۳۳۳
ملي هيلې / Facebook.com
melli_heliweekly@yahoo.com



# زمور د دولت بریا ، زمور بریا ده!

# موفقیت دولت ما ، موفقیت ما است.





په افغانستان کې نړیواله سوداګري د ودې په حال کې ده!
د افغانستان - هند د هوايي دهلېز له لارې تر اوسه ۴۲ الوتنې شوې دي چې په پایله کې يې ۱۴۱۹ ټنه محصولات هندوستان ته استول شوي او دغه راز ۱۵۰۰۰ ټنه غنم د چابهار بندر له لارې افغانستان ته رسېدلي دي. وروستیو پرمختیاوو او په خوست او کندوز ولایتونو کې د نويو نړیوالو هوايي ډګرونو جوړېدو ته په کتو زمور دولت هڅه کوي نړیوالې سوداګرۍ ته وده ورکړي، ترڅو افغانان يې له ګټو برخمن شي.

تجارت بین المللی در افغانستان در حال رشد است!
تاکنون ۴۲ پرواز از دهلیز هوایی افغانستان- هند صورت گرفته که در نتیجه آن ۱۴۱۹ تُن از محصولات به هند فرستاده شده و همچنان ۱۵۰۰۰ تُن گندم از طریق بندر چابهار به افغانستان رسیده است. با در نظر داشت پیشرفت های اخیر و ساخت میدان های هوایی بین المللی جدید در ولایت های خوست و کندز، دولت ما تلاش میورزد تا تجارت بین المللی را رشد داده و افغانها از سود آن مستفید شوند.

هیئت رهبری انجمن جوانان فعال بتاریخ ۲ قوس سال ۱۳۹۶هجری شمسی تحت ریاست محترم الحاج محمد اکبر "ستانکزی" رئیس انجمن و وکیل منتخب مردم ولایت لوگردرولسی جرگه تدویرجلسه داد درنخست محترم عبدالرحیم "واحدی" معاون انجمن ضمن خوش آمدید آجندای جلسه را بخوانش گرفت به تعقیب آن حشمت الله "وجدانی" معاون کمیته امنیتی روی چالش ها وپلان کاری کمیته صحبت نمود ، سپس اعضای کمیته باالنوبه روی مشکلات های خویش صحبت نمودند ،متعاقباً یارمحمد "عزیزیار" عضو انجمن ونماینده محصلین ولایت لوگردر پوهنتون پکتیا روی مشکلات محصلین وخدمات گذشته خویش بحث کرد وی افزود که درپوهنتون پکتیا به تعداد۴۳ تن استادان و ۱۴۰۰ تن محصلین ازولایت لوگرمصروف تدریس وآموزش هستند منجمله ۲۷۲ تن محصلین درسال روان از رشته های مختلف فارغ میگردند... ادامه صفحه ۲








شرکت تجارتی وساختمانی
فاروق ستانکزی




د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت وياړي چې د بیلا بیلو هیوادونو څخه د ډول ډول سمنټ ، قیر او د ساختماني ماشین آلاتو په واردولو سره د هېواد والو په خدمت کې دی.

د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت د کیفیت او معیار نمونه

الحاج محمد حبیب ستانکزي
د فاروق ستانکزي د تجارتي او ساختماني شرکت رئیس

پته: کابل بګرامی حسین خیل
اړیکشمېره ۰۷۴۷۲۲۲۲۴۹

